

# هر صحابي نبي جنتي جنتي

(پښتو)


شیخِ طریقت، امیرِ اھلسنت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علامه مولانا ابو بلال

**مُحمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي**

دامت برکاتھم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ۭ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ۭ

# هر صحابيِ نبي جنّتي جنّتي

**دُعائے عطار:** يا الله پاکه! څوک چې دا رساله ”**هر صحابيِ نبي جنّتي جنّتي**“ اولولي يا ئې واوري هغه ته او د هغه راتلونکو نسلونو ته تر قيامته پورې د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمۡ رينښتوني غُلامي نصيب کړې او د هغه بےحسابه بخښنه اوکړې. اٰمِين بِجَاهِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرود شريف ويُوونکي...(حکايت)

ابُو علي قَطّان وائي: ما خوب اوليدو چې زه (د عراق د ښار) ”کَرخ“ په جامع مسجد شَرقِيَّه کښې يم، هلته ما د مدينے منوّرے جانان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خوب کښې اُوليدلو، هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره دوه کسان نور هُم وُو، چې هغوئي ما نه پيژندل، ما د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم په خدمت کښې سلام عرض کړو خو هغوئي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څه جواب رانکړو، ما عرض اوکړو: يارسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زه په تاسو باندې په ورځ کښې دومره دومره ځله دُرود شريف وايم او تاسو زه د سلام د جواب نه محرومه کړم؟ نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (د الله پاک په عطا د غيبو خبر راکړو او) اُوئې فرمائيل: ”ته په ما باندې درود هم وائې او زما صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُمۡ پورې بَدې ردې هُم وائې.“ ما عرض اوکړو: يَارَسُوْلَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! زه ستاسو په مُبارکو لاسو باندې توبه کووم بيا به داسې نه کووم. بيا نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم (د سلام په جواب کښې ارشاد) اوفرمائيل: وَعَلَيْكَ السَّلَامُ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهٗ. (سعادة الدارين ص ١٦٣)

کیوں نہ ہو رُتبہ بڑا، اصحاب واہلِ بیت کا　　ہے خُدائے مُصطفٰی، اصحاب واہلِ بیت کا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب!　　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اللّٰه پاك ټولو صحابه سره د جَنَّت وعده كړې ده

اللّٰه پاك په اوويشتمه سيپاره سُوْرَةُالْحَدِيد آيت ۱۰ كښې اِرشاد فرمائي:

لَا يَسْتَوِیْ مِنْكُمْ مَّنْ اَنْفَقَ مِنْ قَبْلِ الْفَتْحِ وَ قٰتَلَ ؕ اُولٰٓىٕكَ اَعْظَمُ دَرَجَةً مِّنَ الَّذِیْنَ اَنْفَقُوْا مِنْۢ بَعْدُ وَ قٰتَلُوْا ؕ وَ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ وَ اللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ خَبِیْرٌ۠ ﴿۱۰﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالاِيمان : په تاسو كښې برابر نه دي هغوئي چا چې د فتحِ مكّه نه مخكښې مال خرچ كړو او جِهاد ئې اوكړو، هغوئي په مرتبه كښې د هغوئي نه لوئي دي چا چې د فتح نه وروستو مال خرچ كړو او جِهاد ئې اوكړو، او هغوئي ټولو سره اللّٰه د جَنَّت وعده فرمائيلې ده او اللّٰه ته ستاسو د كارونو خبر دے.

## د صحابه كرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ دوه قسمونه

په دې آيتِ مقدّسه كښې د صحابه كرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ دوه قسمونه بيان كړے شوي دي او د ټولو د پاره ”حُسنٰى“ يعني د جَنَّت وعده شوې ده. وَ كُلًّا وَّعَدَ اللّٰهُ الْحُسْنٰى ؕ ([مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالاِيمان: او هغوئي ټولو سره اللّٰه د جَنَّت وعده فرمائيلې ده) د دې آيت لاندې شيخ اَحمد صاوي مالِكي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: معنٰي دا ده چې هغه ټول صحابهٔ كرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان چې د فتحِ مَكّه نه مخكښې

ئې ايمان راوړے وو او د **الله** پاك په لاره كښې ئې مال خرچ كړے وو، او چا چې د فتحِ مَكّه نه وروستو ايمان راوړے وو او د **الله** پاك په لاره كښې ئې مال خرچ كړے وو، **الله** پاك هغه ټولو سره د **حُسنٰى** يعني د جَنَّت وعده كړې ده. (تفسيرِ صاوي ج٦ ص٢١٠٤)

هر صحابِي نبي! جَنَّتي جَنَّتي
ټولې صحابِياتې هُم! جَنَّتي جَنَّتي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د صحابي تعريف

**حضرتِ** علّامه حافظ اِبنِ حَجر عَسقلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: اَصحَابِيّ: مَنْ لَّقِيَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم مُؤْمِنًا بِه، ثُمَّ مَاتَ عَلَى الْإِسْلَام. يعني هغه خوش نصيبه چې د ايمان په حالت كښې ئې د الله پاك خوږ پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ملاقات كړے وي او د ايمان په حالت كښې وفات شوي وي، هغه خوش نصيبو ته صحابي وائي. (نخبة الفكر ص١١١)

## د صحابهٔ كرامو شمير

**د اَكابِرو مُحَدِّثينو** مطابق د صحابه كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم شمير د يو لاك نه واخله د يو لاك او پينځه وِيشت زرو تر مينځه وو. اعلٰى حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د ټولو صحابه كرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُم نومونه معلوم نه دي، او د كومو چې [نومونه] معلوم دي (د هغوئي شميرتقريباً) ووه [7000] زره دے.

(ملفوظاتِ اعلٰي حضرت ص٤٠٠)

## د فضيلت په اعتبار سره د صحابه کرامو ترتيب

**حضرت** مفتي محمد امجد علي اعظمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د انبيائے کرامو او رسولانو عَلَيْهِمُ السَّلَام نه پس، په ټول مخلوقاتِ الٰهي انسانانو او پيريانو او فرښتو کښې افضل حضرت ابوبکر صديق دے، بيا فاروقِ اعظم، بيا عثمانِ غني، بيا مولٰي علي بيا باقي عَشَره مُبَشَّره او حضراتِ حَسَنين و اصحابِ بدر و اصحابِ بَيعَةُ الرِّضوان رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ افضل دي او دا ټول قطعي (يعني يقيني) جَنَّتيان دي. (بهار شريعت ج١ ص ٢٤١،٢٤٩ بتغيير قليل) په عبارت کښې د فرښتو نه مراد عامي فرښتے دي ځکه چې صحابه کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان د ټولو فرښتو نه افضل نه دي بلکه په فرښتو کښې د ټولو نه اعلٰي درجے والا فرښتے چې هغوئي ته "ملائکه مُقَرَّبِين" وائي، چې په هغوئي کښې عرش اُوچتوونکې او "رسول فرښتے" لکه: جبرائيل و ميکائيل و اسرافيل و عزرائيل عَلَيْهِمُ السَّلَام هُم شامل دي، دا فرښتے د ټولو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نه افضل دي.

صحابہ کا گدا ہوں اور اَہلِ بیت کا خادِم
یہ سب ہے آپ ہی کی تو عنایت یارسولَ الله

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم خلور ياران

د سُوْرَةُالبَقَرَه په آيت نمبر ١٣ کښې ارشاد دے:

وَ اِذَا قِيْلَ لَهُمْ اٰمِنُوْا كَمَآ [مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالإيمان: او چې کله هغوئي ته اووَئيلے شي چې ايمان

اٰمَنَ النَّاسُ قَالُوْۤا اَنُؤْمِنُ كَمَاۤ اٰمَنَ السُّفَهَآءُ ؕ اَلَاۤ اِنَّهُمْ هُمُ السُّفَهَآءُ وَ لٰكِنْ لَّا یَعْلَمُوْنَ ﴿۱۳﴾

راوړئ څنګه چې خلقو ايمان راوړے دے، نو وائي چې آيا مونږه د بےوقوفو پشان ايمان راوړو، خبردار هم هغوئي بےوقوفه دي خو نه پوهيږي.

صحابي ابن صحابي حضرت عبدالله بن عباس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا چې هغوئي ته د نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دعا په بركت علمِ تفسير حاصل شوے دے، د سُورةُالبَقَرَة د آيت نمبر 13 د دې حِصّے ”كَمَاۤ اٰمَنَ النَّاسُ“ ([مَفهُوم]ترجمهٔ كنزُالإيمان: څنګه چې خلقو ايمان راوړے دے) په تفسير كښې فرمائي: ”لكه څنګه چې حضرت ابوبكر صديق، حضرت عمر فاروق، حضرت عثمان غني او حضرت علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمْ ايمان راوړے دے. (ابن عساكر ج۳۹ ص۱۷۷) د دې څلورو يارانو خاص كولو مطلب دا دے چې د دوئي ايمان هغه وخت په عوام و خواص كښې مشهور شوے وو.“

امام اهلِسنّت رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي:

جِنان بنے گی چار یار مُحِبّاں کی قبر
جو اپنے سینے میں یہ چار باغ لے کے چلے

شرح كلام رضا: خوك چې په خپلو سِينو كښې د دې څلورو واړو خوشبوداړو ګلونو (يعني څلورو يارانو) محبّت قبرونو ته يوسي، د الله رَبُّ الْعِزَّت په رحمت به د هغوئي قبرونه د جَنَّت باغونه جوړ شي.

الله! میرا حشر ہو ابو بکر و عُمر
عُثماں غنی و حضرتِ مولٰی علی کے ساتھ

هر صحابيِ نبي! جَنَّتي جَنَّتي
ټولې صحابِياتې هُم! جَنَّتي جَنَّتي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ايمان افروز حکايت

**تابعي** بزرګ **حضرت عبدالله بن وَهُب** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې حضرت سَيِّدُنا امام مالك رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه اُوفرمائيل: کله چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوارۀ خوارۀ صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ شام ته راغلل نو يو راهِب (يعني عيسائي عبادت ګُزار) سره ئې ملاقات اوشو، راهِب چې هغوئې اوليدل نو اُوئې وئيل: په هغه ذات مې دِ قسم وي د چا په قبضۀ قدرت کښې چې زما ساه ده! د حضرت عيسٰي روح الله عَلَيْهِ السَّلَام حواريان (يعني دوستان) کومو ته چې پانسې ورکړے شوي وه او په آرُو باندې څِيرې کړے شوي وو هغوئې هُم مُجاهده کښې دې مقام ته نه وُو رسيدلي، کوم مقام ته چې د **مُحَمَّدِ عَرَبِی** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ رسيدلي دي حضرت **عبدالله بن وَهُب** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما حضرت سيدنا امام مالك ته عرض اوکړو: (راهب چې د کومو صحابؤ صفت کړے وو) تاسو د هغوئې نومونه ښودلے شئ؟ نو هغوئې د حضرت عُبَيده بِن جَرّاح، حضرت مُعاذ بن جَبَل، حضرت بلال، او حضرت سَعْد بن عُباده رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نومونه واخستل. (الله والوں کي باتيں ج٦ ص٤٦١)

**د اللهُ رَبُّ الْعِزَّت دِ په هغوئې رحمت وي او د هغوئې په خاطر دِ زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي.** اٰمِين بِجَاہِ النَّبِيِّ الْاَمِين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

آل و اصحابِ نبی سب بادشہ ہیں بادشاہ
میں فقط ادنٰی گدا اصحاب و اہلِ بیت کا

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب!   صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د صحابيِ رسُول مرتبه

”**صحابيِ رَسُول**“ کيدل د **الله** پاك يو ډير لوئي نعمت دے، د لوئي نه لوئي ولي د صحابي مرتبے ته نه شي رسيدلے، هر صحابي عادِل او جنّتي دے. که څوک څومره عبادت هُم اوکړي خو صحابي نه شي جوړيدے ځکه چې **صحابۀ کرامو** رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمۡ د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صُحبت حاصل کړے وو، د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه ئې علم و عمل زده کړے وو، د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نه ئې تربيت حاصل کړے وو هغوئې خو د انسانانو نه څه چې د فرښتو نه هُم مخکښې شو.“ (مراۃ ج۸ ص۳٤٠) د فرښتو نه د افضل کيدلو هُم هغه تفصيل دے کوم چې مخکښې تير شو.

صَحابہ وہ صَحابہ جن کی ہر دِن عید ہوتی تھی   خُدا کا قُرب حاصل تھا نبی کی دِید ہوتی تھی

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب!   صَلَّى اللهُ تَعالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د صحابي نه يَو وَلي هُم لوئي نه شي کيدے

”**بهار شريعت**“ کښې دي: ټول صحابه کرام (رَضِیَ اللہُ عَنۡہُمۡ) اهلِ خير و صَلاح (يعني د خير والا) او عادِلان دي. کله چې هم څوک د هغوئې ذِکر کوي نو د خير سره د هغوئې ذِکر کول ”**فرض**“ دي. د يو صحابي په باره کښې هم بدعقيدګي لرل بدمذهبي او ګمراهي او د جهنّم حقداري ده او دغه بدعقيدګي د حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سره بُغض (يعني دشمني) ده، يو ”ولي“ که د هر څومره لوئي مرتبے والا شي، د يو صحابي مرتبے ته هُم نه شي رسيدے. (بهار شريعت جلد اول ص ٢٥٢ تا ٢٥٣ مختصراً)

## په يوه سترګه ړوند مړے

د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه د 48 صفحو رساله: "قبر والوں کی 25 حِکایات" كښې په صفحه نمبر 26 كښې دي چې: يو بزرګ رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: زما يو ګاونډي به د ګمراهئ خبرې كولې، د هغه د مرګ نه پس ما په خوب كښې اوليدو چې هغه په يوه سترګه ړوند دے. ما ترينه تپوس اوكړو: دا څه معامله ده؟ جواب ئې راكړو: ما به د صحابه كرامو په مبارك شان كښې "عيبونه" لټول نو الله پاك زه عيب داره كړم! دا ئې أُووئيل او په خپله ړنده سترګه باندې ئې لاس كيښودو. (شرح الصدور ص ۲۸۰)

## فرښتے به د صحابه كرامو استقبال كوي

ټول صحابه كرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ كه اعلىٰ وي او كه ادنىٰ (او په هغوئې كښې ادنىٰ يو هم نشته) ټول جَنَّتيان دي، هغوئې به د جهنّم معمولي شان آواز هم نه اَورِي او هميشه به د زړه غوښتونكو مُرادونو سره اوسيږي، د محشر د ورځې هغه سخته [او خوفناكه] ويره به هغوئې نه غمګين كوي، فرښتے به د هغوئې استقبال كوي چې دا ده هغه ورځ د كومې چې تاسو سره وعده شوي وه. دا ټول مضمون د قرآنِ كريم ارشاد دے. (بهارِ شريعت ج اول ص ۲۵٤) الله پاك سُورَةُ الْاَنْبِيَاء آيت نمبر 101 نه واخله 103 پورې كښې ارشاد فرمائي:

اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنَّا الْحُسْنٰۤى ۙ اُولٰٓىٕكَ عَنْهَا مُبْعَدُوْنَ ﴿۱۰۱﴾ لَا يَسْمَعُوْنَ حَسِيْسَهَا ۚ وَ هُمْ فِيْ مَا

[مَفهُوم] ترجمهٔ كنزُالايمان: بے شكه د كومو كسانو د پاره چې زمونږه وعده د خير شوي ده، هغوئې د جَهنَّم نه لرې ساتلے شوي دي، او هغوئې به د جَهنَّم معمولي شان آواز هم نه اَورِي او هغوئې به د خپلو

اشْتَهَتْ اَنْفُسُهُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۰۲﴾ لَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ وَ تَتَلَقّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ ؕ هٰذَا يَوْمُكُمُ الَّذِيْ كُنْتُمْ تُوْعَدُوْنَ ﴿۱۰۳﴾

زړونو په خواهشونو کښې هميشه اوسيږي. هغوئي به نه غمګين کوي هغه د تيولو غټه ويره، او فرښتے به د هغوئي استقبال ته راځي چې دا ده ستاسو هغه ورځ، د کومې چې تاسو سره وعده شوي وه.

## زه هم د هغوئي نه يم

حضرت مولي علي شيرِ خدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ د سُوْرَةُ الْاَنْبِيَآء آيت نمبر 101 تلاوت کړو:

اِنَّ الَّذِيْنَ سَبَقَتْ لَهُمْ مِّنَّا الْحُسْنٰۤى ۙ اُولٰٓئِكَ عَنْهَا مُبْعَدُوْنَ ﴿۱۰۱﴾

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: بے شکه هغه خلق د چا د پاره چې زمونږه وعده د خير شوي ده، هغوئي د جهنم نه لرې ساتلے شوي دي.

بيا ئي ارشاد اوفرمائيل: زه هُم د هغوئي نه يم، ابوبکر، عمر، عثمان، او طلحه، زبير، سعد، سعيد، عبدالرحمٰن بن عوف، ابوعبيده بن جرّاح رَضِیَ اللہُ عَنْهُمْ (هُم) د هغوئي نه دي. (تفسير بيضاوي ج۱ ص۱۱۰)

الله پاك سيپاره 19، سُورَةُ النَّمْل آيت نمبر 59 کښې ارشاد فرمائي:

قُلِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ وَ سَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى ؕ

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: ته اُووايه چې ټول صفتونه الله لره دي او سلام دِ وي د هغه په غوره کړے شوو بندګانو باندې.

صحابي ابن صحابي حضرت عبدالله بن عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُمَا د دېِ بيان کړے شوي آيت کريمه د دې حِصَّے: ”وَ سَلٰمٌ عَلٰی عِبَادِهِ الَّذِیۡنَ اصۡطَفٰی ؕ“ ([مَفهُوم] ترجمۂ کنزُالاِیمان: او سلام دِ وي د هغه په غوره کړے شوو بندګانو باندې) په تفسير کښې ارشاد فرمائي: ”د غوره کړے شوو بندګانو نه د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صحابه کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُمۡ مراد دي.“

## حرام، حرام، او سخت حرام

**د صحابه کرامو** رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُمۡ چې په خپل مينځ کښې (يعني د جنګونو وغيره کوم) واقعات شوي دي، په هغې کښې کار لرل حرام، حرام، او سخت حرام دي، مسلمانانو له خو دا کتل پکار دي چې هغوئي ټول د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم رينښتوني سر قُربانوونکي [عاشقان] او غلامان دي.

(بهار شريعت ج اول ص ٢٥٤)

میری جھولی میں کیوں نہ ہوں دو جہاں کی نعمتیں
میں ہوں منگتا، میں گدا اصحاب و اہلِ بیت کا

کیوں ہو مایوس اے فقیرو! آؤ آکر لوٹ لو
ہے خزانہ بٹ رہا، اصحاب و اہلِ بیت کا

یا الٰہی! شُکرِیہ عطّار کو تُو نے کیا
شِعر گو، مِدحَت سَرا، اصحاب و اہلِ بیت کا

هر صحابيِ نبي! جَنَّتي جَنَّتي
ټولې صحابياتې هُم! جَنَّتي جَنَّتي

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## خلقو ته د 40 حديثونو د رَسَوَلو فضِيلت

**فرمانِ مُصطفٰي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دے: څوك چې زما امّت ته رَسَوَلو د پاره د دِين مُتَعَلِّق "**40 حديثونه**" ياد كړي نو په ورځ د قيامت به **الله** پاك هغه د عالِـمِ دِين په حيثيت پاڅَوِي او په ورځ د قيامت به زه د هغه شفِيع [يعني شفاعت كوونكے] او ګواه يم." (شُعَبُ الْاِيمان ج۲ ص۲۷۰ حديث ۱۷۲۶) د دې نه مراد څلويښت حديثونه خلقو ته رَسَوَل دي اګر كه هغه ياد نه وي.

(اشعة اللمعات ج۱ ص۱۸۶)

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! په حديثِ پاك كښې د بيان كړے شوي فضيلت حاصلولو په نِيَّت د فضائلِ صحابه مُتَعَلِّق 40 حديثونه وړاندې كيږي:

## د صحابه د فضائلو په باره كښې 40 حديثونه

﴿۱﴾ بهترين خلق زما د زمانے دي (يعني صحابه كرام) بيا چې كوم خلق هغوئي ته نزدے دي (يعني تابعين)، بيا چې كوم خلق هغوئي ته نزدے دي، (يعني تبع تابعين). (بخاري شريف ج۲ ص ۱۹۳ حديث ۲۶۵۲)

**د دَورِ صحابه موده:** شارحِ بخاري حضرت مُفتي شريف الحق امجدي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: د مشهور قول مطابق د صحابه كرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُم زمانه ۱۱۰ هجرئ كښې د ټولو نه آخره كښې د وصال كوونكي صحابي حضرت ابُو الطُّفيل عامر بن واثِله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په وِصال باندې پوره شو، د هغې نه پس بيا اَويا، اَتيا (۷۰–۸۰) كاله دور د تابِعِينو وو او بيا پينځوس كاله د تَبع تابعينو وو، تقريباً 220 هجرئ كښې د تبع تابعينو مبارك دور ختم شو.

(نزهة القاري ج۵ ص۸۰۱ بتغير قليل)

﴿۲﴾ هغه مسلمان ته به د جَهنَّم اُور نزدے هُم نه ورځي چا چې زه اوليدم يا ئې هغه څوك اوليدو چا چې زه ليدلے يم (يعني صحابي رضی اللہ عنہ ئې اوليدلو)- (ترمذي ج۵ ص۴٦١ حديث ۳۸۸٤)

﴿۳﴾ زما د صحابه نه چې كوم صحابي په كومه زمكه وفات شو په ورځ د قيامت به (هغه صحابي) د هغه ځائے د خلقو د پاره نُور او رَهنما جوړ كړے شوے راپاڅولے كيږي. (ايضاً ص٤٦٣ حديث ۳۸۹۱)

﴿۴﴾ زما صحابه كرامو ته ردي بدي مه وائئ، ځكه چې كه په تاسو كښې څوك د اُحُد د غر همره سره زر خرچ كړي هغه د هغوئي د يو مُد برابر (يعني په يو كلو كښې ٤٠ گرام كم) ته هُم نه شي رسيدلے او نه د هٰغه مُد نيمې ته. (بخاري شريف ج۲ ص ۵۲۲ حديث ۳٦٧۳)

﴿۵﴾ انصارو (يعني انصاري صحابؤ) سره محبّت د ”ايمان“ علامت دے او هغوئي سره بُغض د ”نِفاق“ علامت دے. (بخاري ج۲ ص۵۵٦ حديث ۳٧٨٤)

﴿٦﴾ تاسو به تر هغه وخته پورې په خير كښې اوسئ، تر كومې پورې چې په تاسو كښې هغه څوك موجود وي چا چې زه ليدلے يم او زما صُحبت ئې اختيار كړے وي (يعني صحابي)، قسم په خدائے! تاسو به تر هغه وخته پورې په خير كښې اوسئ تر كومې پورې چې په تاسو كښې هغه څوك موجود وي چې صحابي ئې ليدلے وي او د هغه صُحبت ئې اختيار كړے وي (يعني تابعي). قسم په خدائے! تاسو به تر هغه وخته پورې په خير كښې اوسئ تر كومې پورې چې په تاسو كښې هغه څوك موجود وي چې زما ليدونكے او بيا د هغوئي ليدونكے (يعني تبع تابعي) ئې ليدلے وي او د هغه صُحبت ئې اختيار كړے وي. (مُصَنَّف اِبن اَبي شَيبه ج١٧ ص ۳۰۸ حديث:۳۳۰۸٤)

﴿۷﴾ زما د صحابه کرامو عزّت کوئ ځکه چې هغوئ په تاسو کښې بهترين خلق دي. (الاعتقاد للبيهقي ص ۳۲۰)

﴿۸﴾ زما صحابه د ستورو په شان دي، په دوئ کښې چې د چا هُم اِقتِدا [يعني پيروي] کوئ هدايت به اُومومئ. (جامع بيان العلم ص ۳۶۱ حديث ۹۷۵)

﴿۹﴾ انصارو (يعني انصاري صحابه) سره به محبّت نه کوي خو مُؤمِن او دوئ سره به دشمني نه کوي خو منافق، نو چا چې دوئ سره مَحبَّت اوکړو **الله** پاك دِ هغه سره مَحبَّت اوکړي او چا چې دوئ سره بُغض اوکړو **الله** پاك دِ د هغه نه ناراضه شي. (بخاري ج ۲ ص ۵۵۵ حديث ۳۷۸۳)

﴿۱۰﴾ خوك چې په **الله** پاك او په ورځ د قيامت باندې ايمان لري هغه د انصارو (يعني انصاري صحابه کرامو) سره بُغض نه لري. (مسلم ص ۵۷ حديث ۲۳۸)

﴿۱۱﴾ کومو خلقو چې د ونې لاندې بيعت کړے وو، اِنْ شَآءَاللّٰه په هغوئ کښې به يو هُم جَهنَّم ته نه داخليږي. (مسلم ص ۱۰۴۱، حديث ۶۴۰۴)

**شرحِ حديث**: د دې نه مُراد هغه **صحابه کرام** دي کومو چې د ونې لاندې د حضور نبي کريم نه بيعت کړے وو. (مرقات ج ۱۰ ص ۶۰۰) دې بيعت ته "بَيعَتِ رِضوان" وائي، او په دې کښې خوارلس سوه (1400) صحابه کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان شامِل وو. (تفسير نسفي ص ۱۱۴۴) شارحِ مسلم امام نَوَوِي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك نه لاندې ليکي: عُلَمائے کرام فرمائي: د دې حديثِ پاك مطلب دا دے چې بيعت رضوان کوونکي صحابه کرامو کښې به يو کس هم دوزخ ته نه ځي او په حديثِ پاك کښې چې کوم اِنْ شَآءَاللّٰه دے دا د شك په وجه نه دے بلکه (دا د **الله** پاك د نوم د برکت حاصلولو دپاره وئيلے شوے دے." (شرح النووي علي مسلم ج ۸ جزء ۱۶ ص ۵۸)

﴿۱۲﴾ د ته‍ولو نه افضل زه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او زما صحابه كرام رَضِیَ اللهُ عَنْهُم دي. عرض اوكړے شو: بيا څوك افضل دي؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: بيا هغوئي افضل دي څوک چې به د دوئي په نقشِ قدم چليږي. (يعني د دوئي پيروي به كوي) عرض اوكړے شو: بيا څوك؟ ارشاد ئې اوفرمائيلو: بيا هغوئي، څوك به چې د هغوئي (يعني تابعينو) پيروي كوي.

(اللہ والوں کی باتیں ج ۲ ص۱۲۹) (حلية الاولياء ج۲ص۹٤ حديث:۱٥٦۳)

﴿۱۳﴾ زما صحابه زما د اُمَّت د پاره امان دى، چې كله دوئي د دې دنيا نه رخصت شي نو زما په اُمَّت باندې به هغه وخت راشي د كوم چې هغوئي سره وعده شوې ده. (مسلم ص۱۰٥۱ حديث ۱٥٦۳)

**شرحِ حديث:** مرآة شريف كښې دي: د صحابه كرامو په دَور كښې اګر چې فِتنے وے خو د مسلمانانو دين ته (په دومره لويه پيمانه باندې) نقصان نه وو رسيدلے څومره چې (د صحابه كرامو دَور ختميدو نه پس) خراب شو او اوس د دې دَور خو هډو تپوس مه كوئ! **الله** پاک دِ زمونږ حفاظت اوكړي. (مراٰة ج۸ ص ۳۳٦)

﴿۱۴﴾ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلصَّحَابَةِ، وَلِمَنْ رَاٰى، وَلِمَنْ رَاٰى يعني اے **الله**! زما د صحابه كرامو مغفرت اوكړې او چا چې دوئي اوليدل او چا چې د دوئي ليدونكي اوليدل د هغوئي هُم مغفرت اوكړې. (معرفة الصحابة لابي نعيم ج۱ ص۱٥)

﴿۱٥﴾ **الله** پاك چې كله د چا خير غواړي نو د هغه په زړه كښې زما د (ته‍ولو) صحابؤ محبت پيدا كړي. (تاريخ اصبهان ج۱ ص ٤٦٧ رقم ۹۲۹)

﴿۱۶﴾ د ټولو نه مخکښې به زما د پاره پُل صِراط د دوزخ دپاسه کيښودے شي، زه او زما صحابه به په پُل صِراط باندې تير شُو او جَنَّت ته به داخل شو. (الفردوس بمأثور الخطاب ج۱ ص۴۸ حديث ۱۲۰)

﴿۱۷﴾ اللّٰه پاك زما صحابه ته د انبيائے کرامو او رسولانو عَلَيْهِمُ السَّلَام نه علاوه په ټول جهان باندې فضيلت ورکړے دے. او زما په ټولو صحابؤ کښې خير (يعني ښيګړه) ده. (مجمع الزوائد ج۹ ص ۷۳٦ حديث ۱٦۳۸۳)

﴿۱۸﴾ د ستورو په باره کښې تپوس مه کوئ، په خپله رائے باندې د قران تفسير مه کوئ او زما په صحابه کښې يو ته هُم بد مه وائې نو دا خالص ايمان دے. (الفردوس ج۵ ص ٦٤ حديث ۷۳۷۰)

﴿۱۹﴾ زما د ټولو صحابؤ سره چې څوك محبت کوي، د هغوئي مدد اوکړي او د هغوئي د پاره استغفار (يعني دعائے مغفرت) کوي نو اللّٰه پاك به هغه ته په ورځ د قيامت په جَنَّت کښې زما د صحابه ملګرتيا نصيب کړي.
(فضائل الصحابه للامام احمد ج۱ ص۳٤۱ حديث ٤۸۹)

﴿۲۰﴾ زما د صحابه چې چا زما له وجهې حفاظت او عزّت اوکړو نو زه به په ورځ د قيامت د هغه محافِظ (يعني حفاظت کوونکے) يم. او چا چې زما صحابه ته کنزلې اوکړې په هغه باندې د اللّٰه پاك لعنت دے.
(فضائل الصحابه للامام احمد ج۲ ص ۹۰۸ حديث ۱۷۳۳)

﴿۲۱﴾ څوك چې زما صحابه ته بد اُووائي په هغه باندې "**د اللّٰه پاك لعنت**" او څوك چې د هغوئي د عزّت حفاظت اوکړي، زه به په ورځ د قيامت د هغه حفاظت کووم (يعني هغه به د جهنم نه محفوظه اوساتلے شي).
(تاريخ ابن عساكر ج٤٤ ص ۲۲۲، السراج المنير شرح جامع الصغير ج۳ ص ۸٦)

﴿۲۲﴾ چا چې زما د صحابؤ په باره کښې ښه خبره اوکړه هغه د نِفاق نه بَرِي (يعني آزاد) شو، چا چې زما د صحابؤ په باره کښې بده خبره اوکړه هغه زما د طريقے نه لرې شو او د هغه ځائے اُور دے او ځه بد ځائے دے د وَرکرځيدلو. (جمع الجوامع ج٨ ص٤٢٨ حديث ٣٠٢٦٢)

﴿۲۳﴾ زما د صحابؤ مُتَعَلِّق د **الله** پاك نه اُويَرِيږئ! زما د صحابه کرامو په باره کښې د **الله** پاك نه اُويرِيږئ! د **الله** پاك نه اُويرِيږئ! زما نه پس هغوئي نښه مه جوړوئ ځکه چې چا د دوئي سره محبت اوکړو نو زما د محبت له وجهې ئې دوئي سره محبت اوکړو او چا چې دوئي سره بُغض اوساتلو نو زما د بُغض له وجهې ئې دوئي سره بُغض اوساتلو او چا چې دوئي ته تکليف ورکړو نو هغوئي ما ته تکليف راکړو او چا چې ما ته تکليف راکړو هغه **الله** پاك ته تکليف ورکړو او چا چې **الله** پاك ته تکليف ورکړو نو نزدے ده چې **الله** پاك هغه اونيسي. (ترمذي ج٥ ص٣٦٣ حديث ٣٨٨٨)

## اللّٰه و رسول ته تکليف ورکولو والؤ ته د عذاب وعِيد

**اللّٰه و رسول** ته د تکليف ورکوونکو په باره کښې **الله** پاك په دوه ويشتمه [22] سيپاره سُورَةُ الْاَحزاب آيت نمبر 57 کښې ارشاد فرمائي:

اِنَّ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ اللّٰهَ وَ رَسُوْلَهٗ لَعَنَهُمُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَ الْاٰخِرَةِ وَ اَعَدَّ لَهُمْ عَذَابًا مُّهِيْنًا ﴿۵۷﴾

[مَفهُوم] ترجمهٔ کنزُالإيمان : بے شکه هغه خوك، چې تکليف ورکوي الله پاك او رسول ته په هغوئي باندې د الله پاك لعنت دے په دنيا او آخرت کښې او الله پاك د هغوئي د پاره د ذِلّت عذاب تيار کړے دے.

﴿۲۴﴾ په ورځ د قيامت به هر څوک د نجات اُمِّيد لري علاوه د هغه کس نه چا چې زما صحابه ته کنزلې کړي وي، بےشکه اَهلِ مَحشر به په هغوئي (يعني صحابه کرامو ته کنزلې کوونکو) باندې لعنت کوي.

(تاريخ اصبهان ج۱ص۹۲ حديث ۱۲۶)

﴿۲۵﴾ **اِذَا ذُكِرَ اَصۡحَابِىۡ فَاَمۡسِكُوۡا.** يعني چې کله زما د صحابه کرامو ذِکر راشي نو ځان ساتئ (يعني د بدو وئيلو نه ځان ساتئ).

(معجم کبير ج۲ ص ۹۶ حديث ۱۴۲۷)

**شَرحِ حديث:** حضرت علامه علي قاري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: يعني صحابه کرامو عَلَيۡهِمُ الرِّضۡوَان ته بدې ردې وئيلو نه ځان ساتئ. ځکه چې په قرآنِ کريم کښې د هغوئي د پاره د رضائے الٰهي خوشخبري بيان شوې ده، لهٰذا ضرور به د هغوئي انجام د پرهيزګارئ او رضائے اِلٰهی سره په جَنَّت کښې وي. او دا هغه حُقُوق دي چې د اُمَّت په ذمه باندې پاتې دي لهٰذا چې کله هم د هغوئي ذِکر وي نو چې صرف او صرف خير سره وي او د هغوئي د پاره د نيکو دعاګانو سره وي. (مرقاة ج۹ ص ۲۸۲)

﴿۲۵﴾ بےشکه په ورځ د قيامت به سخت ترين عذاب په هغه چا وي چا چې انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام ته بد وئيلي وي، بيا به په هغه چا وي چا چې زما صحابه ته بد وئيلي وي او بيا په هغه چا وي چا چې مسلمانانو ته بد وئيلي وي. (حلية الاولياء ج۴ ص ۱۰۰ حديث ۴۸۹۴)

﴿۲۷﴾ د **الله** پاك دِ په هغه کس لعنت وي، چا چې زما صحابه کرامو ته کنزله اوکړه. (معجم کبير ج۱۲ ص ۲۳۶ حديث ۱۳۵۸۸)

## په صحابه کرامو پورې عيب لګوونکي

﴿۲۸﴾ بےشکه **الله** پاك زه غوره [يعني مُنتخب] کړم او زما د پاره ئې زما صحابه غوره کړل، او زر به يو داسې قوم راشي چې د دوئي شان به کَمَوِي، په دوئي به عيبونه لګوي او دوئي ته به کنزلې کوي، لهٰذا تاسو د هغوئي سره مه کښينئ، او نه د هغوئي سره خوراك څښاک اوکړئ، او نه د هغوئي سره لـمونځونه اوکړئ او نه د هغوئي لـمونځ [يعني جنازه] اوکړئ.

(الجامع لاخلاق الراوي للخطيب البغدادي ج٢ ص ١١٨ رقم ١٣٥٣)

﴿۲۹﴾ بے شکه زما د امت بدترينه خلق هغه دي کوم چې زما په صحابه باندې جُرأت کوونکي دي. (الكامل في ضعفاء الرجال لابن عدي ج٩ ص١٩٩)

**شرح حديث:** يعني هغه خلق چې صحابه کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان ته بد رد وائي او د هغوئي په باره کښې داسې خبرې کوي چې د هغوئي د شان او مَنصب لائق نه دي، داسې کار کول ډير سخت ترين حرام کار دے، صحابه کرامو ته بد رد وئيل په بدئ باندې د جُرأت کولو نښه ده او د هغوئي عزت او احترام کول د ښه کيدلو علامت دے او حق خبره دا ده چې د ټولو صحابه کرامو تعظيم دِ اوکړے شي او هغوئي ته د بدو وئيلو نه دِ ژبه بنده اوساتلے شي، که هغه صحابۀ کرام د مهاجرينو نه وي يا د انصارو نه وي.

(فيض القدير ج٢ ص٥٧٥ تحت الحديث ٢٢٨١)

﴿۳۰﴾ خوک چې زما صحابه ته بد اُووائي، په هغه باندې د **الله** پاك، او فرښتو او ټولو انسانانو لعنت، **الله** پاك به نه د هغه فرض قبلوي، نه نفل.

(الدعا للطبراني ص٥٨١ رقم ٢٠١٨)

﴿۳۱﴾ خوک چې زما صحابه، ازواج او اهلِ بيت رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ سره عقيدت لري او په دوئي کښې په چا باندې طعن نه کوي (يعني بد رد ورته نه وائي) او د

هغوئي په محبت باندې د دنيا نه وفات شي هغه به په ورځ د قيامت زما سره زما په درجه کښې وي. (جمع الجوامع ج۸ ص۴١٤ حديث ٣٠٢٣٦)

د صالِحِينو (يعني نيکو خلقو) سره د کيدلو نه دا لازم نه راځي چې د هغه درجه او جَزا به په هر اعتبار د هغوئي په مِثل وي بلکه په بعضې درجه کښې به په څه خاص اعتبار د هغوئي سره شريک وي اګرچې د مقام و عزّت و معيار په اعتبار په لکونو درجو فرق وي، لکه څنګه چې په محل کښې بادشاه او غلام (يا په بنګله کښې مالك او ملازم) دواړه وي خو په درجو کښې ئې فرق واضح وي.

﴿۳۲﴾ زما د صحابه په معامله کښې زما لحاظ کوئ ځکه چې هغوئي زما د اُمَّت بهترين خلق دي. (مسند الشهاب ج١ ص٤١٨ حديث ٧٢٠)

﴿۳۳﴾ زما نه پس به زما د صحابه نه څه لغزش [يعني سَهْوْ] کيږي، الله پاك به هغوئي زما د صُحبت په وجه معاف کړي او د هغوئي نه پس به څه خلق راځي چې هغوئي به الله پاك پرمخ دوزخ کښې اچوي.

(معجم الاوسط ج٢ ص٢٦٠ حديث: ٣٢١٩)

اعلٰی حضرت د هغوئي نه پس راتلونکو په باره کښې فرمائي: دا به هغه خلق وي چې د هغه لغزشونو په وجه به صحابه کرامو باندې طَعن کوي [يعني بد رد به وريوري وائي]. (فتاوٰي رضويه ج٢٩ ص٣٣٦)

﴿۳۴﴾ زما په امت کښې زما د صحابه مثال په طعام کښې د مالګې په شان دے ځکه چې طعام د مالګې نه بغير صحيح نه وي.

(شرح السنّة ج٧ ص١٧۴ حديث ٣٧٥٦)

﴿۳۵﴾ چې کله تاسو اوګورئ چې خلق زما صحابه کرامو ته بد وائي نو تاسو اُووائي: د الله پاك لعنت دِ وي ستاسو په شَر باندې.

(ترمذي ج٥ ص ٤٦٢ حديث ٣٨٩٢)

**شرح حديث:** حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك تحت فرمائي: يعني صحابه كرام خو ټول خير خير دي كه تاسو هغوئي ته بد وائې نو هغه بد بيرته تاسو ته راګرځي او د هغې وَبال هُم په تاسو باندې پريوځي. (مراٰة المناجيح ج٨ ص٣٤٤)

﴿٣٦﴾ ماته دِ يو صحابي هُم د هيڅ چا له طرفه يوه خبره هم نه رارسوي، زه غواړم چې ستاسو خوا ته صفا سينه راځم. (ابو داؤد ج٤ ص ٣٤٨ حديث ٣٨٦٠)

**شرح حديث:** "مرأة شريف" كښې دي: يعني چې د چا دشمني، د چا نه نفرت مې په زړه كښې نه وي. دا هُم زمونږه د پاره **بيانِ قانون** دے چې خپلې سينې (د مسلمانانو د كِينې نه) صفا ساتئ چې د مدينې اَنوار پكښې اُووِينئ، ګني د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سينۀِ رحمت، د نُورِ كرامت خزانه ده هغې ته بُغض و كينه هډو رسيدلے نه شي. (مراٰة المناجيح ج٦ ص ٤٧٢)

﴿٣٧﴾ ما ته په خلقو كښې د ټولو نه زيات مَحبُوب [يعني خوښ] تاسو (يعني انصار صحابه) ئې، ماته په خلقو كښې د ټولو نه زيات تاسو مَحبُوب ئې.

(مسلم ص ١٠٤٤ حديث ٦٤١٧)

﴿٣٨﴾ مهاجرين او انصار رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د مدينې منورے نه ګير چاپيره خندق [يعني كند] كنستلو كښې مصروف وو، نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا دعا اوغوښتله: يا **الله**! خير نشته خو د آخرت خير، پس په مهاجرينو او انصارو كښې بركت واچوې. (بخاري ج٢ ص ٢٦٤ حديث ٢٨٣٥)

﴿٣٩﴾ كه خلق په يو ځنګل يا يوه دَرَه [د دوو غرونو د مينځه لاره] كښې روان شي نو زه به د انصارو (يعني انصارو صحابؤ) په ځنګل يا دَره كښې

ځم او انصار د دننه لباس په شان دي او باقي خلق د بهرني لباس په شان دي. (بخاري ج۳ ص۱۱٦ حديث: ٤۳۳۰ مختصراً)

**شرح حديث:** په "مراٰة شريف" کښې دي: يعني که د ټولې دنيا رائے يوه وي او دانصارو رائے بله وي، نو زه به د انصارو صحابؤ د رائے موافِق رائے ورکووم، د هر چا په رائے به د انصارو رائے ته ترجيح ورکووم، دا مطلب نه دے چې زه به د انصارو اِتّباع کووم ، ټول جهان د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِتّباع کوونکے دے، حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د کوم قوم يا د کوم کس اِتّباع کوونکے نه دے. اَلنَّاس نه مراد عام مؤمِنين دي، حضراتِ خلفائے راشدين يا فاطمه زَهرا او حَسَنَينِ کَرِيمَين رَضِىَ اللّٰهُ عَنْهُم په دې کښې داخل نه دي. (مراٰة ج۸ ص۵۲۷ مختصراً)

## دُعائے مصطفٰي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِلْاَنْصَارِ، وَلِاَبْنَآءِ الْاَنْصَارِ، وَاَبْنَآءِ اَبْنَآءِالْاَنْصَارِ يعني يا **الله!** د انصارو (صحابؤ) او د هغوئي د ځامنو او نمسو بخښنه اوکړې.

(مسلم ۱۰٤٤ حديث ٦٤١٤)

هر صحابِيِ نبي! جَنّتي جَنَّتي
ټولي صحابِياتي هُم! جَنّتي جَنّتي

خلور ياران د نبي! جَنّتي جَنَّتي
حضرتِ صديق هُم جَنّتي جَنَّتي

او عُمر فاروق هُم جَنّتي جَنّتي
عُثمانِ غني جَنّتي جَنّتي

فاطِمه او علي جَنّتي جَنَّتي
حسن او حُسين هُم جَنّتي جَنَّتي

والدينِ نبي جَنّتي جَنّتي
هر زَوجهٔ نبي جَنّتي جَنّتي

ابُو سُفيان هُم جَنّتي جَنّتي
او مُعاوِيه هُم جَنّتي جَنّتي

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

کيوں نه هو رُتبه بڑا

# اَصحاب و اَہلِ بَیت کا

کیوں نہ ہو رُتبہ بڑا اَصحاب و اَہلِ بَیت کا ہے خُدائے مُصطَفٰی، اَصحاب و اَہلِ بَیت کا
آل و اصحابِ نبی سب بادشہ ہیں بادشاہ میں فقط اَدنٰی گدا اَصحاب و اَہلِ بَیت کا
میری جھولی میں کیوں نہ ہوں دوجہاں کی نعمتیں میں ہوں منگتا میں گدا اَصحاب و اَہلِ بَیت کا
کیوں ہو مایُوس اے فقیرو! آؤ آکر لُوٹ لو ہے خزانہ بٹ رہا، اصحاب و اہلِ بَیت کا
فضلِ رب سے دو جہاں میں کامیابی پائے گا دِل سے جو شَیدا ہوا اصحاب و اہلِ بَیت کا
اے خُدائے مُصطفٰی! ایمان پر ہو خاتِمہ مغفرت کر واسطہ اصحاب و اہلِ بَیت کا
جِینا مرنا اُن کی اُلفت میں ہو یا ربّ! اور ہو قُربِ جنّت میں عطا اصحاب و اہلِ بَیت کا
حشر میں مُجھ کو شَفاعت کی عطا خیرات ہو واسِطہ یا مصطفٰی! اصحاب و اہلِ بَیت کا
نُور والے! قبر میری حشر تک روشن رہے واسِطہ تُم کو شَہا! اصحاب و اہلِ بَیت کا
ہر برس میں حج کروں میٹھا مدینہ دیکھ لُوں یا اِلٰہی! واسِطہ! اصحاب و اہلِ بَیت کا
نَزع میں حَسَنَین کے نانا کا جلوہ ہو نصیب یا اِلٰہی! واسِطہ! اصحاب و اہلِ بَیت کا
دے گناہوں سے نجات اور مُتّقی مجھ کو بنا یا اِلٰہی! واسِطہ! اصحاب و اہلِ بَیت کا
دَردِ عِصیاں کی دوا مل جائے میں بن جاؤں نیک یا اِلٰہی! واسِطہ! اصحاب و اہلِ بَیت کا
دُور ہو دُنیا سے مَولٰی یہ "کُرونا" کی وَبا یا اِلٰہی! واسِطہ! اصحاب و اہلِ بَیت کا
شاہ کی دُکھیاری اُمّت کے دُکھوں کو دور کر یا اِلٰہی! واسِطہ! اصحاب و اہلِ بَیت کا
تنگدستی دُور ہو اور رِزق میں برکت ملے یا اِلٰہی! واسِطہ! اصحاب و اہلِ بَیت کا

یا اِلٰہی شُکریہ عطّار کو تُونے کِیا
شعر گو، مِدحَت سَرا اصحاب و اَہلِ بَیت کا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ تَعالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## نېک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زيارت د مابنام د لمانځه نه پس ستاسو په ښار کښې کيدونکي د **دعوتِ اِسلامي** د سُنَّتونو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نيتونو سره توله شپه تيروئ ❀ د سُنَّتونو د تربيّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره مياشت د درې ورځو سفر او ❀ هره ورځ د **"فِکرِ مَدينه"** په ذريعه د **مَدَني اِنعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَني مياشتې په يکم تاريخ ئې د خپل ښار ذِمَّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: **"ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي."** اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په **"مَدَني انعاماتو"** عمل او د ټولې دُنيا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار **"مَدَني قافِلو"** کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَاللّٰه عَزَّوَجَلَّ








فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدينه (کراچۍ)

UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213

Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com